مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

آصف بهاند
۲۰۲۶/۰۵/۲۵

# د لنډیو اصلي منابع خلک دي

۴۰مه‌برخه

لنډۍ، د ښتولو ستونزه

۳۸۱مه برخه

په ټولنیزه میډیا کې څوویډیوګاني او ګڼشمېر لنډۍ:

**زما بیخي زړګی راډک دی**
**څوک چې د یارکیسي کوي، ژړا راځینه**

**چې څه دې وکړه، ښه دې وکړه**
**د نورو بدو به دې وس نه‌رسېدنه**

**ارمان ځواني پسې په‌کار دی**
**دا بعضې‌خلک د دولت ارمان‌کوینه**

**په سر کې ورو ړومنځ راکاږه**
**په کې زما د زړګي کور دی وران به شینه**

**دا به زما نه پوره نه‌شي**
**چې هرمابښام دې په جرګو رضا کومه**

**که دې خندلي راته نه‌وای**
**نرۍ ـ نرۍ زړه به مې ولې‌خوږېدنه**

**راځه ـ راځه پرما امبارشه**
**زه د غمونو سوداګر، راغلې‌یمه**

**ترجنازې مې مخکې مه‌ځه**
**وروسته راځه چې دې ترسترګو لاندې یمه**



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپلې لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

**چې په ورکړې مېن نه‌شي**
**ته به ولاړ یې بل ېې سره‌ډولی کې وړینه**

یورباب غږونکی یوازې ناست دی له یوه منګي سره رباب غږوي او داسې سوې لنډۍ زمزمه کوي چې اورېدونکي سم ورسره سوځي. ما دا پاسنی لنډۍ ورنه راخوندي کړې. ویدیو درې دقیقې اوړده ده او دا لاندې یې لینک دی:

https://www.facebook.com/reel/1670356280595402

**زما د مرګ زیری پرې وکړئ**
**چې په درشل پورې ولاړه وچه‌شینه**

**د قبر خواکې ورته ناستیم**
**د خاورو زور دی لالی غږ نه‌راکوینه**

**انقلابي جانان به وکم**
**چې د وطن پرخاوره ځان‌قربانوینه**

**لالا یې توروخاور وخوړ**
**خور یې جامې اوتوکوي چې رابه‌شینه**

دا لنډۍ مې هم له یوې داسې ویدیو نه راخپلې کړې چې یوځوان په ژوندۍبڼه په یومجلس کې له ژوندۍ موسیقۍ سره سوځنده لنډۍ وایي. ویدیو یوه‌دقیقه او نولس‌ثانیې ده او دا لاندې یې لینک دی:

https://www.facebook.com/reel/854723417719511

**بدماشي مه‌کوه، خانخیلیو**
**که دې نوکر یمه، مېن دربانډې یمه**

**خدای دې په تنګه‌لار کې راکه**
**که ته شرمېږې، لاس به زه درواچومه**

**راځه چې دواړه وطن پرېږدو**
**وروستی خبرې به سپین‌ږیري خلاصوینه**

**که دې وطن راسره پرېښود**
**لکه ښارو په جوارو به دې ساتمه**

**د رومالونو دور تېر شو**
**خلک په ښو کې موبایل ورکوینه**

دا لنډۍ له داسې یوې ویدیو نه رااخیستل شوې دي چې یوځوان د جوارو په کرونده کې رباب په غیږ کې یوازې ناست دی، په خپله رباب غږوي یو تن ورسره ضرب (ډولک) وهي او ربابي سوځنده لنډۍ زمزمه کوي. ویدیو دوې‌دقیقې او دیارلس‌ثانیې ده او دا لاندې یې لینک دی:

https://www.facebook.com/reel/1938895436688005


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

**مسافرۍ مې ويښته سپين کړل**
**د وجود غوښې مې ستاغم توږلې‌دينه**

**سخت د دردونو راته پام دی**
**يورانه‌ځي، بل دروازه راټکوينه**

**لامبوزن نه‌يي، کرار کينه**
**په دريابه ګډېدل زړه غواړي مېئنه**

**چېرته چي ښه‌وي، هلته شپه وي**
**پـه اوسـني يــار مــي چـتـي تـړل شـرطـونــه**

**يوه‌نيمه‌شپه شي په خوند تېره**
**يوه‌نيمه‌شپه د سړي وينه وچوينه**


دا پاسنۍ لنډۍ مې له داسې يوې ويډيو نه راواخيستلې چې يوځوان يوازې ناست دی او له يوه موزيک سره په کليوالي لهجه لنډۍ زمزمه کوي. ځينې لنډۍ مې سره له دې چې ښوځلې واورېدې، خو پرې پوه نه شوم. ويډيو ټوله يوه‌دقيقه او پنځه‌پنځوس‌ثانيې ده، دا لاندې يې لينک دی:

https://www.facebook.com/reel/1590821245698098

**که ديدن کړې، تلوار راوکړه**
**زه به ترڅوپورې واړه بډم قدمونه**

**په وړکوتوالي کې مزې وې**
**اوس پيغلې نجونه رانه پټېمخونه ځينه**

**ديدن له راشه خوړه ياره**
**چې درنه تاو کمه په مينه سره‌لاسونه**




**ښپلتونه صبرکه رانه‌شي**
**زه خو د يار ديدن‌له نن راغلىيمه**

دا پاسنۍ لنډۍ مې له داسې ويډيو نه ترلاسه کړې چې لنډۍ، غږ او د سندرغاړي نوم او څېره ټول راته نوي وو. ويډيو ټوله څلورڅلوېښت‌ثانيې ده او له پيل نه ترپايه پورې د يوه شخص عکس ښودل کېږي او په ټايټل کې يې داسې ليکلي دي:

تېرهېر اوازونه،
درويش‌استاد مرحوم

زه د دې ويډيو له جوړونکي او د دې سندرغاړي د غږ له شريکولو او مخاطبينو ته د ورپېژنولو له پاره مننه کوم او هيله ورنه کوم چې د «تېرهېراوازونه» لړۍ جاري وساتي او خلکو ته تېرهېر سندرغاړي وروپېژني. دا هم د ويډيو لينک:

https://www.facebook.com/reel/1267649841909264


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

**چې په ښایست مې خپه کېږې**
**نور به د مځکې خوب کوم چې زړه شمه**

**جانانه ټینګه غېږه راکړه**
**بېګا مې مړ په خوب لیدې، ویر مې کاونه**

**خاونده دا پرده مې وکې**
**د یاررومال مې په لمن کې پاتېشونه**

دا درې لنډۍ مې له داسې یوې ویډیو نه راخپلې کړې چې د پښتنو د منلي سندرغاړي ګلزار عالم نوم پرې لیکلی و. په ویډیو کې یو قاري ناست دی، په ترنم سره لنډۍ زمزمه کوي او خپل لاسونه ورسره پړکوي، د ویډیو په لاندنۍ برخه کې لیکل شوي دي چې: «قاري خوږترنم کوي او پر ژوند مئین دی.» دا هم د ویډیو لینک:

https://www.facebook.com/reel/770531292766345

**د ښکلو مینه، خړسپلاو دی**
**که څوک پرې خان لاهو کوي، مئین دې شینه**

**د جانان سترګې خنجرونه**
**تل ګوزارونه مې د زړه پرسرکوینه**

**د جانان مینې مې دا حال کو**
**کچکول په لاس، په هریو در غواړم خیرونه**

**بېلتونه مهراځه کلار شه**
**د جانان شونډې مې ایله چیچلېدینه**

**د یار راتګ په ما اختر دی**
**سمه روژه کې پر ما راشي اخترونه**

**اوس له غماز سره عادت شوم**
**زما جانان د غمازانو خوی کوینه**

**غم يې زما په زړه لګیا دی**
**په خوشالو یې رقیبان مزېکوینه**

**د بېلتانه په عدالت کې**
**زه عمرقید د خپلجانان له لاسه یمه**

**یوخوا دهجرتورېشپې دی**
**بل څوګیلې دي، ورسره د یار غمونه**

**بېلتون مې جج، غماز وکیل دی**
**ما د ماشوم یار ملاقات ته نهپرېږدینه**


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

دا لنډۍ مې له داسې یوې ویډیو نه را خپلې کړې چې سندرغاړی د ساز په ملتیا سوې لنډۍ زمزمه کوي. په ویډیو کې ښکاري چې اوډیوکست لګول شوی دی او په ویډیو کې یوازې د اوډیو کست عکس ښکارېږي. ویډیو څلوردقیقې او لس ثانیې ده، دا یې لینک دی:

https://www.facebook.com/reel/915991547746561

نوربیا

د لیکوال نوري لیکنې په لاندې لینک کې لوستلای شئ:

**http://afghan-german.com/tahLiLha/EditAutor.aspx?95**



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالې د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ